مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۰/۱۸

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۴۰۴مه برخه

که غږ مي اورې، زور مالوم که
نن مي ډولۍ د کلي منځ کې تېروینه

کومو غمونو ته چې ژاړې
پرما تېرشوي، پرتا اوس راغلي‌دینه

پرتا مي غم کله پیرزو شي
بې‌غمه یاره ښيرا خپل‌ځان‌ته کومه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لنډۍ غوره شوې دي:

که یاري کې، درته ولاړیم
که یاري نه کې، نو پروادې نه‌لرمه

که غږ مي اورې، زور مالوم که
نن مي ډولۍ د کلي منځ کې تېروینه

که دې د مینې‌لالی بل وي
تمه مي لېده که چې نه دې یادومه

کومو غمونو ته چې ژاړې
پرما تېرشوي، پرتا اوس راغلي‌دینه

کله به راشي په ژوند ورکه
زما له سترګو نه تور ځي، ړنده به شمه

کټ مي پرلوړه‌غونډۍ کېږدئ
ښکته مي مه‌کوزوئ، هېڅوک نه‌لرمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

له مجبوریته درته خاندم
چیرته خندا، چیرته زموږ چاودلۍزړونه

لیلا کږه شوه، ماته نه شوه
مور یې دزیړې غوا غوړي ورکړۍدینه

لکه نارنج درپسې زیړشوم
د هجر تاو مې په زړګي دی، مړ به شمه

له مجبورۍ مې وطن پرېښود
لکه کوچی هرکله مېنه بدلومه

مازدیګری ده، ښیرې مه‌کړه
د مازدیګر ښېرې کمرې ړنګوینه

پرتا مې غم کله پیرزو شي
بې‌غمه یاره ښیرا خپل‌ځان‌ته کومه

پاڼه له باد سره رپیږي
جلۍ چې خال پرزنه ږدي، څوک به لرینه

په کومه لاړې، غږ دې ورکشو
لالیه تا خو ترقیامت تړل شرطونه

پخوا به غلو تیاره کې غلا کړه
اوس په رڼاورځ لوټوي د بل مالونه

په نوم دې ډېرخلک ګرځېږي
په رنګ دې یو نه‌شته چې زړه مې صبرشینه

پرځان به داسې تاویزوکړم
د تا کوڅه به ځان‌ته توره بلا کړمه

بریتونه تاوکړه، خوله مې واخله
په ناتاوکړوبریتو خوله نه‌درکومه

دا څه بې‌رحمه زمانه شوه
یو ورته‌ژاړي، بل یې کور تالاکوینه

دا زه چې ژاړم، چا ته ژاړم
د غره پر کاڼو باراه څه اثرکوینه

د یار په زړه به نورڅه وو
وروستې دیدن کې یې کاږه راوکاتنه

د بیلتانه ماښام مې وژني
دا تللۍخلک بېرته ولې نه‌راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سپينيځولي خيرات شروع و
مـالـيونـي کـچـکـول چپـه نـيولـیونـه

ډېر دي مجبور کړمه روزګاره
هلته دې راوستم چې نهورتهراتلمه

اوس که راځې، حالات بدل دي
د ژونـدخوښې مـې پـه غـمـو بـدلېدينه

چا ته يوهنيمه خبره
بل څهشی نهوي، د ميرې څپيـړه وينه

ته د وطن يخې اوبهڅکې
ما نه پنجاب پوليس پوستکی بېلوينه

ترڅو به دا د غم جګړې وي
ترڅو پرموږ به خارجيان لوبېکوينه

ټپه ـ ټپه درپسې ژاړم
غزل ـ غزل ځواني مې خاورېشوه مېنه

سهار بې نفل وظيفه وه
په ماښامي بې لوټول پرديکورونه

چا چې وطن باندې سرورکړ
اوس يې بچيان کوڅو کې خير تولوينه

يا ملنګجانشه يا خوشحالشه
چې پـښـتـانـه دې پـه نـامـه فـخـرکـويـنـه

زړه دې ښه مست راکړی خدايه
د تندي کربنې دې کړې راکړېدينه

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ